# د اسلام بیا را ژوندي کول یوازې د خلافت په واسطه ممکن دي؛ نو پرېږدئ چې د واک خاوندان یې د تاسیس لپاره نصرت ورکړي

له هغې وروسته چې د پاکستان د سمندري ځواک رییس ظفر محمد عباسي د ۲۰۱۹م کال د ډسمبر په ۷مه پر خپل ټوېټر د اسلام د نړیوالې واکمنۍ غوښتنه وکړه، د دغه هېواد په ټولنیزو رسنیو کې تاوده بحثونه راپورته شول. هغه وویل، چې پاکستان د اسلام د نړیوال عزت د بېرته را ګرځېدو لپاره د پیل نقطه کېدلی شي. همداراز نوموړي زیاته کړه؛ مسلمانانو د اسلام په وسیله پر نړۍ حاکمیت وکړ او غربیان بیا د دین پر پرېښودلو سره پر نړۍ واکمن شول. په حقیقت کې د دغې خاورې د وسلوالو ځواکونو په ګډون د هر مسلمان واقعي هلیه همدا ده، چې اسلام یو ځل بیا خپل حاکمیت ترلاسه کړي. په هر حال اوسنیو چارواکو ته باید زموږ د اسلامي احساساتو د غلطې رهبرۍ اجازه ورنه کړل شي او پرېنښودل شي چې زموږ ژوند د چټلې ډیموکراسۍ په یوې بلې بڼې (پارلماني او ریاستي) سره رنګ کړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَلَا تَلْبِسُوا الْحَقَّ بِالْبَاطِلِ وَتَكْتُمُوا الْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

[البقره ۲:۴۲]

***ژباړه:*** *باطل له حق سره مه ګډوئ او له پوهېدو سره سم د حق پټولو هڅه مه کوئ!*

**اې د پاکستاني پوځ وسلوالو افسرانو!** د هغه مادي قدرت په واسطه چې الله سبحانه وتعالی درکړی، تاسو دا توان موندلی شئ، چې پاکستان د اسلام په بېرته واکمنېدو کې د یوازنۍ تګلارې لپاره د پیل نقطه شي. د نبوت پر تګلاره د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته نصرت ورکړئ، ترڅو د ډیموکراسۍ بدبویه جسد تر خاورو لاندې شي. له خپل دغه قدرت څخه د یوه داسې دولت په جوړولو کې ګټه واخلئ، چې د اساسي قانون هره ماده یې له قران او سنتو څخه اخیستل شوې ده. هغه دولت چې ټولې اسلامي خاورې به د وېشل کېدو پر ځای د واحد اسلامي دولت برخه وګرځوي. داسې یوې اسلامي رهبرۍ ته نصرت ورکړئ، چې د دښمن نظامي تیري ته د خبرو، تړونونو او مذاکراتو پر ځای د وسلو او جنګ په ژبه ځواب ورکړي. داسې دولت تاسیس کړئ، چې د مسلمانانو اقتصادي سرچینې د ښکېلاکګرو له منګولو وژغوري او د مسلمانانو د سوکالۍ لپاره یې وکاروي.

په حقیقت کې خلافت د خپلې خوښې انتخاب نه دی، بلکې د ټول اسلامي امت وجیبه ده؛ چې په اړه یې بې پروایي کول هغه ناوړه مرگونه دي، چې له اسلام پرته مو له منځته وړي. په همدې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«مَنْ مَاتَ وَلَيْسَ فِي عُنُقِهِ بَيْعَةٌ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً»**

(مسلم)

***ژباړه:*** *هغه څوک چې له امام (خلیفه) سره له بیعت پرته مړ شي، مرگ یې د جهالت دی.*

د خلافت د تاسیس لپاره کار کول پر ټول اسلامي امت واجب دي؛ لکه څنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فتَكْثُرُ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

(بخاري)

***ژباړه:*** *له ما وروسته به بل پیغمبر را نه شي، بلکې گڼ شمېر خلفاء به وي. صحابه وو ترې وپوښتل: موږ باید هغه مهال څه وکړو؟ رسول الله صلی الله علیه ځواب ورکړ: د لومړي خلیفه بیعت ته ژمن اوسئ، اطاعت یې وکړئ او حق یې ادا کړئ؛ ځکه الله سبحانه وتعالی به له دوی څخه د خپل امانت په اړه پوښتنه وکړي.*

نو په خپل نصرت سره پر نړۍ د اسلام بیاځلي واکمني رهبري کړئ، ترڅو د الله سبحانه وتعالی رضایت ترلاسه کړئ.

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ.ق، کال د ربیع الثاني ۱۱مه**

**۲۰۱۹م کال، د ډسمبر ۸مه**

د صدور گڼه: ۲۷/۱۴۴۴